مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۰۸/۱۹

# نړیوالې ټولنې

## ۷۴ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**
**اروپايي ټولنې**
**اروپا**

**۱/۴ اروپایي شوری(European Council(EC:**

دا د EU د دولتونو د مشرانو شوری ده چې د هغه هېواد په غوښتنه جرگه کېږي چې د EU مشرتوب يې په غاړه وي. د اروپايي کمیسیون مشر هم په دې غونډو کې برخه اخلي.EC د روم په تړون کې نشته؛ خو د EU مشرانو کله چې په کال ۱۹۷۴ کې د لومړيځل له پاره سره وليدل، پرېکړه وکړه چې بيا به هم سره گوري او خپلې موخې او لومړيتوبونه به ټاکي. دا شورى په کال ۱۹۹۲ کې رسمي شوه او په ۲۰۰۴ کې د EU د یو اداره کوونکي ارگان په توگه ومنل شوه. په دې شورى کې د EU ټول دولتي مشران برخه اخلي او په کال کې دوه ځله سره گوري. د EU د کورنيو بهرنيو مسایل څېړي، د EU د تگلارو ټاکل او تشريح، د بهرنی کړنلارې ټاکل، د EU دفاعي او عدلي او قضایي کړنلارو (خط مشي) روښانه کول او د EU د لومړيتوبونو غوراوی د دې شورى په دندو او واکونو کې وي.
د دې شورى پرېکړه د اکثریت رايي غواړي.
EC د قانون جوړولو واک نه لري؛ خو په تېروڅو کلونو کې يې د اروپا په ډېرو بدلونونو او پرمختگونو کې رغنده ونده لرلې.
دEC مشر په اکثريت رايه د ۲.۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي. دا مشر د شورى د غونډو راپورونه اروپايي پارلمان ته استوي.[1]

**۲/۴- د وزیرانو شورىCouncil of Ministers :**

د وزيرانو شورى د EU د پرېکړو لوړ ارگان دی چې د غړو هېوادونو له ۱۵ وزيرانو، معمولاً بهرنيو چارو وزيرانو څخه جوړه ده او د قوانينو د تصويب مسووليت لري. د هر هېواد وزير د انگليسي الفبا په ترتيب ۶ مياشتي د شورى رياست په غاړه اخلي. د شورى رييس د غونډو د جوړېدو، د پاليلو د اعلان، د قوانينو د لاسليک او د نويو پروگرامونو د جوړولو مسوول وي. شورى په هرو شپږو مياشتو کې يوځل په بروکسل کې غيرعلني او اوږدې غونډې کوي؛ ځکه هر دولت د خپلو ملي گټو له پاره ډېر زيار باسي. په بله ژبه د وزيرانو شورى د EU هغه بنسټ دى چې په هغه کې د غړو هېوادونو گټې راساً مطرح کېږي.
که چېرته د بحث موضوع لويه او عمومي وي، د بهرنيو چارو وزيران ورځي او که موضوع ځانگړې وي، لکه کرنيزه تگلاره، بيا د کرنې وزيران برخه اخلي.[2]
د وزيرانو شورى عمومي پرېکړې لومړى د ټولو توافق ته اړتيا لري، که داسې اتفاق نه وي بيا رايه اچول کېږي او ۷۵% موافقو رايو ته اړتيا وي. په دې شورى کې غړي هېوادونه د خپلو نفوسو په اندازه، يا په بله ژبه وزني رايي Weighted Votesلري. لوی هېوادونه لکه فرانسه، جرمني، ايتاليا او برتانيا هر يو ۱۰؛ اسپانيا ۸؛ بلجم، يونان او پرتگال هر يو ۵، سويدن او استريا هر يو ۴؛ فنلند، دنمارک او ايرلند ۳ او کمکی لوکزامبورگ يوازې ۲ رايي لري. له هغه ځايه چې د هر تصويب له پاره ۶۲ رايو ته اړتيا ده، کمکي هېوادونه هم کولای شي چې په ځينو وختونو کې د پرېکړو مخه ونيسي.
د وزيرانو شورى په EU کې، د قانون جوړولو لومړنی ځای بلل کېږي. که څه هم چې ډېرې طرحې او وړانديزونه د اروپايي کمېسيون لخوا برابرېږي؛ خو په پای کې دا د وزيرانو شورى ده چې د EU ډېر قوانين تصويبوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دې توګه د اروپايي شورى لويې دندې دا دي: د قوانينو په هکله پرېکړه (کله د اروپا د پارلمان په ګډون)، له بهرنيو هېوادونو سره هوکړې، د EU کلنۍ بودجه، د غتو سياستونو ټاکل او په EU کې د ننه د همغږى پياوړي کول. د روم تړون له مخې دا شورى ډېر واک لري .[3]

## ۳/۴- اروپايي کمېسيون European Commission

اروپايي کمېسيون د EU د غړو هېوادونو له هغه ۲۷ استازو څخه جوړ دى چې د هر دولت په وړانديز؛ خو د ټولو دولتونو په توافق ټاکل کېږي او ۵ کاله کار کوي. دا کسان دويم ځل هم ټاکل کېداى شي. اروپايي کمېسيون يو استازى خپل مشر ټاکي. مشر پنځه مرستيالان لري او دا ټول بايد د اروپايي پارلمان د تاييد وړ وي.

د دې کمېسيون غټې دندې دا دي: د EU د مصوبو او پروګرامونو د اجرا څار، د اروپا د لويوکټو تامين، EU اهدافو ته د رسېدو له پاره د تدابيرو نيول، د اساسي قانون تطبيق، د EU د قوانينو د تطبيق څار، د ټولنې د بودجې تطبيقول او د مديريت او همغږي چارو مخ ته وړل.[4]

کمېسيون د EU د کابينې حيثيت لري او د اجراييه قوې په څېر، د وزيرانو شورى د پرېکړو د عملي کولو ترتيبات نيسي، د وزيرانو شورى تصاويب څاري او خپل وړانديزونه د تاييد له پاره دې شورى ته استوي.

د کمېسيون غړي د خپل کار په وخت کې، د خپل هېوادګټې نه؛ بلکه د ټولې اروپا ګټې په پام کې نيسي او په خپلو پرېکړو کې خپلواکي (استقلاليت) لري.

که چېرې کوم هېواد له قانون څخه سرغړونه وکړي، کمېسيون کولاى شي چې په اروپايي محکمه کې دعوا پرې کړي. د کمېسيون غړي نه شي کولى، چې د خپل کار په موده کې نورې دندې ولري او د اروپايي پارلمان په وړاندې مسووليت لري.

کمېسيون په اونۍ کې يوځل غونډه کوي او خپل کارونه او فعاليتونه څېړي. د وړانديزونو تصويب، د سياسي طرحو نهايي کول او د سياسي لومړيتوبونو په نښه کول، د دې غونډې له اصلي موضوعاتو څخه دي.

دا کمېسيون۳۲۰۰۰ پرسونل( اداری کارکوونکی، څیرونکی، ژباړونکی او خدمات) لري او د EU ستر اجراييوى ارګان بلل کېږي.

کمېسيون له اروپايي شورى سره نږدې اړيکې لري او له شورى سره په ځينو مسايلو کې په همغږي کار کوي.[5]

کمېسيون هر کال د خپل کار راپور اروپايي پارلمان او د غړو هېوادونو مشرانو ته لېږي. اروپايي پارلمان کولاى شي چې د اروپايي کمېسيون د ړنګېدو خبره وکړي .[6]

## ۴/۴- اروپايي پارلمان European Parliament

د اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې، د کال ۱۹۵۲ په سپتمبر کې، د خپلو غړو هېوادونو د شپږو ملي پارلمانونو له ۷۸ استازو څخهيو شورى جوړه کړه. د کال ۱۹۵۸ په مارچ کې، د اروپا اقتصادي ټولنه او د اروپا د اتومي انرژۍ ټولنه هم د دې شورى سره يوځاى او د اروپايي پارلمانونو شورى وبلل شوه. په کال ۱۹۶۲ کې د دې شورى نوم د (اروپا پارلمان) شو.[7]

دندې: پارلمان د EU مقننه قوه ده چې د قوانينو د جوړولو په وخت کې مشوره ورکوي او د قوانينو په تطبيق څار ساتي .

اروپايي ټولنه اوس له اووه ويشت غړو هيوادونو څخه۷۰۵ استازي او جمعا ۷۵۰۰ اداری او خدماتی کارکوونکی لري، چې د هر هېواد د نفوسو په اندول ټاکل کېږي او د اروپا د اوسيدونکو استازيتوب کوي. سره له دې چې هر هېواد په دې پارلمان کې د خپل نفوس په تناسب استازي لري؛ خو کوچنيو هېوادونو ته دا حق ورکړ شوى چې ډېر استازي ولري. په دې پارلمان کې پارلماني ډلې هم شته چې د ګډو سياسي نظرياتو له مخې جوړېږي.

لکه د بېلابېلو هېوادونو سوسيال دموکراتان او داسې نور.

سمدلاسه په دې پارلمان کې د غړو هېوادونو د استازو شمېر داسې دی:

جرمني ۹۹، فرانسه ۸۷، ايتاليا ۸۷، اسپانيا ۶۴، پولند ۵۴، هالند ۳۱، يونان ۲۵، بلجيم ۲۵، پرتګال ۲۵، چکيا ۲۴، هنګري ۲۴، سويډن ۲۲، استريا ۲۱، فنلند ۱۶، دنمارک ۱۶، ايرلند ۱۵، سلواکيا ۱۴، ليتوانيا ۱۳، لاتويا ۹، سلووينيا ۷، قبرس ۶، استونيا ۶، لوکزامبورګ ۶، بلغاريا ۱۷، رومانيا ۳۳، کروشيا ۱۲او مالتا ۵.

پخوا به دا استازي د غړو هېوادونو د پارلمانونو د ټاکنو په وخت کې، د خلکو په خوښه ټاکل کېدل؛ خو ستونزه دا وه چې کله به د يو ملي پارلمان د کار موده پاى ته ورسېده، په اروپايي کميسون به د همغه هېواد د استازي/ استازو دنده پاى ته ورسېده، له همدې امله په کال ۱۹۷۹ کې پرېکړه وشوه چې د اروپايي پارلمان استازي به د غړو هېوادونو لخوا ټاکل کېږي.

د اروپا پارلمان استازي کولاى شي چې د خپلو هېوادونو د پارلمانونو غړيتوب هم ولري .[8]

د اروپا پارلمان اصلي دندې:

- د قانون جوړونې په اړه مشوره او نظر ورکول او د قوانينو وضع کول،
- د ټولنې، په ځانګړي توګه د کمېسيون او شورى په کارونو څار،
- د EU د بېلابېلو څانګو د هغه بودجې تصويبی ا رد چې د شورى له خوا وړاندې شوې وي.

که چېرته بودجه په پارلمان کې ۴۵ ورځې وځنډېږي، تصويب شوې ګڼل کېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**د پارلمان واک:**
د اروپا پارلمان او د EU د وزیرانو شورى، لکه د يو هېواد د ملی شورى د ولسي او مشرانو جرګو حيثيت لري. د EU د نوي اساسي قانون سره سم، د پارلمان واکونه ډېر شوي او د سياست جوړولو نژدې تړول مراکز د پارلمان تر نظر لاندې کار کوي. اوس د اروپا پارلمان د قوانينو په اړه د مشورو په څنګ کې، خپله هم قوانين جوړولای شي. د مشورې په صورت کې لومړی د اروپا کمېسيون، يوه طرحه د اروپا شورى ته او نقل يې پارلمان ته استوي. د پارلمان يوه ځانګړې کمېټه دا طرح ګوري، بيا د پارلمان غونډې ته ځي او بيرته يې کمېسيون ته استوي چې په اصل متن کې، د دوی له نظر سره سم تعديلات راولي. کمېسيون د پارلمان د نظرياتو د منلو مکلفيت نه لري؛ خو د اروپايي محکمې، د پارلمان د نظرياتو د نه اوريدلو په صورت کې، شوي کارونه بې اعتباره اعلانولای شي. پارلمان همدا شان د EU او هغه هېوادونو په ژمنليکونو (عهدنامه) په هکله هم نظر ورکولای شي چې د ټولنې غړيتوب نه لري. اروپايي ټولنه د سوداګريزه تړونونو او ګمرکي تعرفو څخه پرته، په نورو مسايلو کې د پارلمان مشوره اخستلای شي.
د اروپا شورى کله چې د کوم کار (بهرنی سياست يا امنيت) په اړه د پارلمان نظر غواړي، د وقت قيد هم ږدي، که چېرې پارلمان په ټاکلي وخت کې نظر ورنکړي، د شورى پرېکړه نهايي بلل کېږي.
پارلمان د اروپايي شورى په لاندې پرېکړو باندې د (وټو) حق لري:

- د کوم غړي هېواد له خوا د مدني حقوقو د پرله پسې او بربنډو تر پښو لاندې کولو مجازات،
- دا لاندې دربېدوله نړيوالې هوکړې: د همکارى د پروګرامونو په اړه هوکړې، داسې هوکړې چې د اروپايي ټولنې له پاره مالي ګټې ولري او دربېم د ګډو پرېکړو په اړه د قوانينو د اصلاح هوکړې،
- د اروپايي شورى اجراييه طرحې او د شورى د بودجې جوړښت،
- د پارلمان د دريځ په اړه د اروپايي شورى پرېکړې.

جوړښت: د ماستريخت تړون د بيا کتنې له مخې، په قانون جوړولو سربېره د اروپايي پارلمان واکونه نور هم ډېر شول، په ځانګړې توګه د ورانديزونو د منلو واک. د مثال په توګه پارلمان کولای شي چې له کمېسيون څخه وغواړي چې خپلې هغه طرحې چې د اروپايي ټولنې د قانون له مخې، د هر تړون د اجرا په برخه کې جوړېږي پارلمان ته واستوي. پارلمان کولای شي چې د خپلو ۲۵% غړو په غوښتنه، د اروپايي ټولنې د قوانينو د اجرا د مديريت د کمزورتيا او د دې قوانينو تر پښو لاندې کولو (نقض) په وخت کې، د پلټنې، څېړنې او پوښتنې کمېټه جوړه کړي.
د اروپايي ټولنې د اساسي قانون له مخې هر اوسيدونکی کولای شي چې اروپايي پارلمان ته شخصي يادله ييز شکايتونه ولېږي.[9]
د هغه مامور ټاکنه هم د پارلمان کار دی چې د اروپاييټولنې د هر بنسټيا ارګان د مديريتي کمزورتيا د څېړلو له پاره اړين وي. دا مامور چې د پارلمان د رايې له مخې غوره کېږي، د اروپايي کمېسيون د غړي په څېر وي، په خپله دنده کې خپلواکه وي او هغه وقت لېرې (عزل) کېدای شي چې محکمه يې د نه وړتيا پرېکړه وکړي.[10]
مقر: د اروپا پارلمان ځانګړی ځای نه لري، دارالانشا يې په لوګزامبورګ، غونډېيې د فرانسې په ستراسبورګ او د کمېسيون غونډې يې په بروکسل کې کېږي.

## ۵/۴ - د اروپا د عدالت محکمه European Court of Justice

اروپايي محکمه چې اوس د EU ستره قضايي مرجع شمېرل کېږي، د اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د تړون له مخې، د دې له پاره جوړه شوه چې د اروپايي ټولنې د بېلابېلو بنسټونو تر منځ د واک انډول (توازن) وساتي او د ټولنې د حقوقو د اجرا او څار او د اروپايي ټولنې د غړوهېوادونو او اروپاييټ ولنې د بنسټونو تر منځ، د منځګړې او حکم دندې په غاړه لري. محکمه له اروپايي قوانينوڅخه د سرغړونکو هېوادونو دوسيې څېړي، د ټولنې د غړو هېوادونو او نورو هېوادونو او اروپايي ټولنې تر منځ، شخړې اوري او څېړي. د غړو هېوادونو محکمې هم کولای شي چې د اړتيا په وخت کې، د دې محکمې څخه مشوره او د ابهام په وخت کې د قوانينو تفسير وغواړي .[11]
د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو نهايي محکمې، بايد د ټولنې د حقوقو د تفسير او اعتبار په شان موضوعات، اروپايي محکمې ته وړاندې کړ. دې حق اروپايي محکمې ته واک ورکړی چې هم د اساسي حقوقو او هم په ځانګړو مسايلو لکه د کورنيو بازارونو د واک او حقوقو په شان، مسايلو کې پرېکنده برخه ولري.
اروپايي محکمه د غړو هېوادونو په شمېر قاضيان لري چې د EU له خوا د ۶ کلونو له پاره ټاکل کېږي. هر هېواد کولای شي چې يو قاضي او يو مدافع وکيل محکمې ته وپېژني. EU هغه قاضيان او مدافع وکيلان غوره بولي چې په خپلو هېوادونو کې لوړ علمي نوم ولري او د رايې په ورکولو کې به بشپړه توګه خپلواکه وي. په هرو دريو کلونو کې د اروپايي محکمې ۷ – ۸ قاضيان نوي کېږي.
د محکمې مشر د نورو قاضيانو په پټه رايه، د دريو کلونو له پاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.
محکمه څو ځانګې لري چې په هره يوه کې د لومړنيو محاکمو په شان ۳ – ۵ قاضيان کار کوي. د دې څانګو مشران د يو کال له پاره د اروپايي محکمې له خوا ټاکل کېږي.[12]
واکونه: اروپايي محکمه دوه ډوله واکونه لري: مشورتي او قضايي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د محکمي مشوره هغه وخت اغېزمنه ده، چې د اروپايیتولنیو غړی هېوادیا اروپايي کمېسیون، له بل داسي هېواد سره د تړون د لاسلیک په درشل کي وي چې د اروپایيتولني غړي نه وي او له اروپايي محکمي څخه نظر وغواړي. که محکمه ووايي چې دا تړون د EU له احکامو سره په ټکر کي دی، نه لاسلیک کېږي.
په قضايي واکونو کي د اروپايي محکمي او د هېوادونو د ملي محاکمو، د اقداماتو په برخه کي توپیرونه شته. که چېرته یوه مسله مخامخ اروپايي محکمي ته راغلي وي، د محکمي پرېکړه له بشپړو څېړنو او پوښتنو وروسته نهايي وي؛ خو که مسله لومړی د کوم هېواد په خپله محکمه کېڅېړل شوي او بیا اروپايي محکمي ته راجع شوي وي، داسي مسله به بېرته په همغه ملي محکمه کي په مخ وړل کېږي؛ خو د اروپايي محکمي مشوره به ورسره وي. په داسي حالاتو کي نهايي پرېکړه هم په همغه ملي محکمه کي اورول کېږي. د EU ټول غړي هېوادونه مکلف دي چې د اروپا د عدالت محکمي پرېکړي ومني.
په اروپايي محکمه کي د قضاوت په مسایلو کي د ۹ قاضیانو شتون اړین دي؛ خو په مهمو مسایلو کي ۱۵ قاضیان باید حضور ولري.[13]

**۶/۴ - د تمیز محکمه:**

د اروپا د تمیز محکمه په کال ۱۹۷۵ کي، دماستریخت تړون له لاسلیک وروسته جوړه شوه او جوړښت او اساسنامه يي کټ مټ د اروپايي محکمي په شان دی. د تمیز ۱۲ غړي د هغه ذواتو له ډلي څخه چې په خپلو هېوادونو کي هم ورته (مشابه) واکونه ولري، د اروپايي پارلمان په مشوره، د اروپايي شورى له خوا د ۶ کلونو له پاره ټاکل کېږی او دوه ځلي کار کولای شي . رییس د دريو کلونو له پاره د همدې ۱۲ کسانو له منځه او خوښه غوره کېږي او دوه ځلي کار کولای شي. د تمیز قاضیان په خپل کار کي خپلواکي لري؛ خو له قانونه هېڅ مغایر کار نه شي کولای او د بل هېڅ بنسټ یا دولت خبره به نه مني.
د تمیز محکمه د EU او اړونده ارګانونو عواید او لګښتونه پلټي او د هر مالي کال په پای کي، اروپايي پارلمان او شورى ته، د کارونو د قانوني اجرأ په هکله راپورونه استوي. دا محکمه په حقیقت کي د اروپايي ټولني د محاسبي څانګه ده او څکه جوړه شوي چې په اروپايي ټولنه کي د رشوت او اداري فساد مخه ونیسي.
مقر: د تمیز محکمي مقر په لوګزامبورګ کي دی.[14]

**۷/۴ - د بشري حقونو اروپايي محکمه Euroean Court of Humen Rights :**

دا دفتر د بشري حقونو د اروپايي کمېسیون د احکامو د اجرا له پاره، چې د بشري حقونو د اروپايي دفتر اساسنامه بلل کېږي، په کال ۱۹۵۰ جوړ او په ۱۹۵۸ کي په استراسبورګ (فرانسه) کي فعال شو.
جوړښت: دا محکمه د اروپايي شورى په اندازه غړي لري چې هر یو د یو هېواد استازیتوب کوي او د کار موده يي ۹ کاله ده.
اروپايي هېوادونه خپل ۳ – ۳ قاضیان د هغوی د علمي او اخلاقي صلاحیتونو له مخي، اروپايي شورى ته ورپېژني چې دوه يي باید د همغه هېواد تابعیت ولري.
د محکمي رییس او نایب، د همدې قاضیانو له منځه او د دوی په خوښه ټاکل کېږي. په هره غونده کي باید کم تر کمه ۹ قاضیان حضور ولري او د هغه هېواد ملي قاضي باید حاضر وي چې دعوییي په محکمه کي روانه وي.
د بشري حقونو اروپايي محکمه د اړتیا په وخت کي غونډې کوي. د بشري حقونو د اروپايي کنوانسیون، د موادو د نقض او د زیان د جبران د مسایلو څېړل، د دې محکمي په واکونو کي راځي. د محکمي پرېکړې نهايي دي او د کنوانسیون لاسلیک کوونکي، د اروپايي ټولني د وزیرانو شورى تر نظر لاندې، د محکمي د پرېکړو د عملي کولو مسوولیت په غاړه لري.[15]

**۸/۴ - د بشري حقونو اروپايي کمېسیون Euroean Commission of Humen Rights :**

ټول هغه هېوادونه چې د بشري حقونو اروپايي کنوانسیون يي لاسلیک کړی، د دې کمېسیون غړي بلل کېږي. هر هېوادیو استازی لري؛ خو په کمېسیون کي د خپل هېواد د استازي په نامه نه؛ بلکه د مسلکي شخص په توګه کار کوي او د EUد وزیرانو شورى له خوا غوره کېږي.
کمېسیون د اړتیا په وخت کي غونډې کوي. د کمېسیون د نهم نمبر پروتوکل له مخي افراد، ډلي او نادولتي ټولني هم خپلي لانجي د بشري حقونو اروپايي کمېسیون ته وړاندې کولای شي.
**فعالیتونه:** EU د شلمي پېړۍ تر ټولو لويه او بریالی ټولنه، د سیمه ییز پیوستون او همغږی ښه بیلګه ده چې د اروپا د وخت د دوو لويو هیادونو، فرانسه او جرمنی، په کډه هڅه او مرسته جوړه او تر اوسه فعاله ده. EU دومره کار وکړ چې اوس اروپا په نړۍ کي څانګړی دریځ، ملي ورځ( د می نهمه)، څانګړی سرود او بیرغ، ګمرکی اسانتیاوی او ګډ پولي واحد لری، کرنیزه تګلاری یی یو شان دی او د سوداګرۍ، ژوند چاپیریال او ډېرو نورو ټولنیزو او اقتصادی چارو کی، په بشپړه مشوره په مخ روان دی.[16]

د EU پلازمینه: د EU کومه څانګړي پلازمینه نه لري او بنسټونه يي په بېلابېلو اروپايي هېوادونو کي ځای په ځای دي. اروپايي کمېسیون او د وزیرانو شورى په بروکسل (بلجیم) کي دی، د اروپايي پارلمان او کمېسیونو غونډې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هم په همدې ښار کې کېږي، له همدې امله ځيني خلک بروکسل په باالقوه توګه د EU پلازمينه بولي. اروپايي پارلمان په ستراسبورګ (فرانسه) کې دی. د اروپايي شورى او د بشري حقونو اروپايي کمېسيون هم په همدې ښار کې موقعيت لري.
د اروپا عدالت محکمه او د اروپا د پارلمان دارالانشا په لوکزامبورګ کې فعال دی. د EU مرکزي بانک په فرانکفورت (جرمني) او د اروپايي پانګوني بانک په لوکزامبورګ کې کار کوي.[17]

---


[1] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۱ – ۲۵۳.
[2] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۵۴
[3] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۰۰-۱۹۹
[4] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۰۹-۳۰۸
[5] Google.com
[6] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۰۷
[7] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۴-۳۱۳
[8] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص۳۱۴-۳۱۳ او Google.com
[9] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۷-۳۱۵
[10] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص۳۱۸
[11] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۸
[12] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۵۷
[13] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۷.
[14] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۲۰-۳۱۹
[15] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۲۱-۳۲۰
[16] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۵۹
[17] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۲۲-۳۲۱




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ